بـشـتو پښتو ژبه

# د توحید قسمونه: 3

توحید وای: الله پاک یو منل په هغه شیانو کی چه هغه پوري خاص وی کوم چه اړه لری د هغی د ربوبیت سره او الوهیت سره او نومونو او صفتونو سره.

توحید په دری ډوله دی:

## توحید ربوبیت

توحید ربوبیت ویل کیږی: الله جل جلاله یو منل په خپلو کارونو کی. یا دا عقیده لرل چه الله پاک - په ځانګړی توګی سره. پیداکونکی بادشاه آو پالونکی د مخلوق دی .

## توحید الوهیت

توحید الوهیت ویل کیږی: عبادت صرف د الله کول. یا عبادتی عملونه صرف الله لپاره خاص کول.

## توحید اسماء او صفات

توحید اسماء او صفات ویل کیږی: الله منل په ځانګړی توګه سره خپلو هغه نومونو کی او صفتونو کی کوم چه یی ځان لپاره خاص کړی دی په خپل کتاب او یا د خپل رسول په ژبه باندی . چه ثابتوی یه هغه نومونه او صفتونه چه ثابت کړی دی الله پاک خفل ځان لره پرته د معلولیت یا تحریف نه او پرته دکوم کیفیت او مثال بیانولو نه.

# د دین دری درجی او مراتب دی

## احسان

احسان ویل کیږی: د الله داسی عبادت کول لکه ته چه هغه وینی. او که ته هغه نه وینی نو هغه ښو تا وینی.

احسان یوه ستنه لری چه لاندی یی دوه مرتبی دی:

1 لیدلو په حال عبادت کول.
یعنی: د الله داسی عبادت کول لکه ته چه هغه وینی.
2 د څارنی په حال عبادت کول.
یعنی: او که ته الله نه وینی نو هغه خو تا وینی.

## ایمان

ایمان ویل کیږی: په ژبه وینا او په زړه کی عقیدة او په اندامونو او عناصرو دجسم عمل کولو ته وای .زیاتیږی او کمیږی.

### د ایمان ستنی 6

1- په الله ایمان لرل.
2- په پریښتو ایمان لرل.
3- په اسمانی کتابونو ایمان لرل.
4- په رسولانو ایمان لرل.
5- په آخرت ایمان لرل.
6- په تقدیر دخیر او شر ایمان لرل.

## اسلام

اسلام ویل کیږی: تسلیمول الله لره په یو والی باندی. او تابعداری کول دهغه په اطاعت کی. او دشرک او اهل شرک نه براءت کولو ته وای.

### د اسلام ستنی 5

1-شهادت دوه کلمی.
2-لمونځ قایمول.
3-زکاة ورکول.
4-د رمضان میاشتی روژه نیول.
5-دالله دکور حج کول هغه چا لپاره چی د تګ توان لری.

# حرام کړی شوی برخی 4

## لوی شرک

ددین څخه د وتلو لاره ده. نه بخښل کیږی څوک چی په دی باندی مړ شی. مشرک دالله پاک سره شریک جوړوی او غیر الله رابلي -دحاجت په وقت کي- لک څنګه چی الله پاک ته بلنه ورکوی. یا د هغی څخه ویره لری . یا د هغه سره مینه لری له څنګه چی هغه د الله پاک سره مینه لری. یا هغه ته دعبادت یو ډول وقف کوی.

## وړوکی شرک

- د دین نه پری سوک نه وځي. له لویو ګناهونو څخه لویه ګناه ده.
- لکه داسی وینا کول: که ستا او د الله پکي خوښه وی.
- له الله پاک پرته په بل چا قسم کول.
- زان ښودانه په نیک کارونو باندی.
- شرکی تعویذونه کول.
- بد پالی نیول او نا امیدی کول.
- لاسونه او کونجکی ځړول د ځان ساتلو یا دبد نظر د مخنیوی لپاره .

## لوی ګناهونه

هری هغی ګناه ته وای چی ځانګړی سزا پری مرتب کیږی.
لکه: جادو. د مور او پلار نافرمانی . سود. زنا. لواتت. دروغ ویل . شراب څښل. غلا. غیبت . دهغه نفس وژل چی الله تعالی حرام کړی دی پرته له حقه. یتیم مال خوړل.

## واړه ګناهونه

د لویو ګناهونو لاندی ګناهونه دی لوی ګناهونه د بخښنی په غوختلو سره له منځه ځي -معاف کیږی- او واړه ګناهونه په دوام سره لوی کیږی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: له کچنیو ګناهنو زان وساتی. ځکه چی دا په سری راجمع کیږی تر دی چی هلاك یی کړی.